مریم ناصحی
ژباړه: فرهاد ویاړ
(لومړی برخه)

# ویکتور خارا، د انقلاب سندرغاړی

د ډیرو نورو په شان
ما خوله تویول زده کړل
پوه نشوم چې مکتب څه ته وایي
پوه نشوم چې لوبه یعني څه
په سپیده دم کې،
زه یې له خپلې برستنې راوویستم
او د پلار تر څنګ، له کار سره لوی شوم

د ویکتور خارا لپاره، ګواکې ټول شیان د سپتمبر سره ګډ شوي وو. د سپتمبر له ورځو څخه یوه ورځ وه چې نړۍ ته راغی. د سانتیاګو هوا سړه وه. د سانتیاګو په ژمني یخنۍ کې، د ښار په څنډې کې، آماندا په سړې او تورتمې جونګړه کې درد درلود، د ویکتور د زیږیدنې درد. مانوئل، د آماندا کارګر او بیوزله خاوند، د نرسیې په لټه کې و. خو آماندا هومره درد وزغمو چې بالاخره یې ویکتور لیدیو خارا ماتینز نړۍ ته راوړ؛ د ۱۹۳۲ کال د سپتمبر دری ویشتمه.

کلونه وروسته، بیا هم د سپتمبر له ورځو څخه یوه ورځه وه، چې توپونو او ټانکونو د سانتیاګو په واټونو کې پرید وهو او د سالوادور آلنده د دولت په ضد یې د بریالی کودتا خبر ورکاوه. د سپتمبر دا ورځ، د هغه بلې په خلاف، دومره سړه نه وه. که څه هم د جنرال پینوشه او د هغه تر فرمان لاندې پوځ د وینو ډکه کودتا، تلله چې پر چیلي د مرګ سوړتیا واکمنه کړي؛ د ۱۹۷۳ کال د سپتمبر یوولسمه.

مانوئل، یو دیاړي مار کارګر و. کومه ورځ چې به یې کار وموند، نو له ځان سره به یې یوه ډوډۍ کور ته راوړله او په کومه ورځ چې به وزګار پاتې شو له تش لاس او تیټ سر سره به کور ته راستنیدو. آماندا هم البته چې وزګاره نه پاتې کیده. د کورنۍ د ستونزمن ژوند د تیرولو لپاره، هغې هم هر کار ته اوږه ورکوله. نه یوازې هغه، چې آن شیږ کلن ویکتور هم کار کاوه او د کورنۍ سره یې مرسته کوله. ویکتور لا ماشوم و چې مانوئل کور او کورنۍ پریښوده؛ په دې هیله چې په کروندو کې کار ومومي او کورنۍ ته پیسې ولیږي. یوه خوشې او بې پایه هیله! مګر په کروندو کې د کار سره هغه څومره پیسې پیدا کولی شوې چې یو څه یې کورنۍ ته ولیږي؛ په تیره بیا چې مانوئل د ژوند په سختو

کړلیچونو کي په الکولو هم روږدی شوی و. په ناچارۍ، او یو څه موده وروسته، دا اړیکه پرې شوه او آماندا پاتی شوه او اولادونه. نوی ژوند پیل شو. آماندا د ویکتور او د خپلو نورو اولادونو پالنه په یو ځان په غاړه واخیسته. هغه هیله درلوده چي ماشومان یې د زده کړې لاره ونیسي. د سخت او بیرحم ژوند سره سره یې نرمه او هنرمندانه روحیه درلوده. گیتار او پیانو یې غږول او د نورو کارونو تر څنګ، هر کله به چي موکې یې لرله او وخت به ورته برابریده، د خلکو د ودونو او ویر په مراسمو کي به یې فولکلوریکي ترانې ویلې.

ورځي یو په بل پسې تیریدلې او ستونزمن کار د آماندا دردجن ځان اوبه کاوه. له سهار تر ماښام پورې یې کار کاوه چي د خپلي کوچني کورنی لګښت پوره کړي. کله چي به کور ته له کار ستومانه رسیده او ډیره به ستړې وه، هیڅ یې نشو کولای مګر دا چي خپل زوړ گیتار په څنګل کي ونیسي، خپل اولادونه شاوخوا راټول کړي او هغوی ته گیتار وغږوي او ترانې ووایي. او همدا و چي ویکتور د گیتار او ترانې سره آشنا شو. آماندا گیتار وهو او ترانې ویلې او د گیتار او ترانې غږ د ویکتور په وینه کي بهیدو. خو افسوس، چي سخت کار او ملاماتونکی ژوند، د آماندا عمر لنډ کړ. آماندا مړه شوه، کله چي ویکتور یوازې پنځلس کلن و. ویکتور، نه یوازې مور، چي خپله ښوونکي او ګرانه ملګرې او غم خوږونکی له لاسه ورکړه.

د یوې بیوزلي کارګري کوچني کورنی څخه، مور مړه شوی وه او پلار که لا هم ژوندی و، په کار او الکول کي ډوب و او د خپلو ماشومانو څخه یې خبر نه درلود. خو ویکتور، هغوی، آماندا او مانوئل هیر نکړل. د آماندا او مانوئل زوې، کله چي لوې شو او وی کړای شول گیتار په څنګل کي ونیسي او ترانه ووایي، د خپل مور او پلار خاطره یې، د «ته مي په یاده یې آماندا» ترانې سره تلپاتی کړه. دا ترانه ویکتور، اروپا ته د سفر په ترڅ کي وویله. هغه ترانه چي په خپله ویکتور یې مهربانه راوې و او په ډیره مینه د دوو ځوانو کارګرو، ښځې او سړي، آماندا او مانوئل، له کیسي څخه غږیږي. د کارخانې د کارګرانو د لنډې شیبې د دمې په لړ وخت کي د مانوئل د لیدني لپاره د آماندا د لیوالتیا او د لنډې شیبې له لیدني څخه روایت کوي. مانوئل د خپل زوې په ترانه کي، هغه کارګر نه دی چي د ژوند په سختو کړلیچونو کي پر ځمکه ولیدلی او الکولو ته یې پناه وړې ده، بلکي هغه مبارز کارګر دی چي د مبارزې لپاره غرونو ته پورته کیږي او کله چي د کارخانې اشپلاق وهل کیږي هغه هم د نورو ډیرو کارګرانو په شان کارخانې ته بیا نه راستنیږي. آماندا او مانوئل د خپل زوې په ترانه کي، تر هسک آسمانه پورې ځانګونه وهي او له هغه ځایه خپل کړیدلي زوې ته ګورې او د کارګر او زیارکښ انسان په ستاینه کي د خپل زوې گیتار او ترانو ته په هیله او آرزو سره سترګې ښخوې.

**ته مي په یاده یې آماندا،**
**واټ لوند،**
**په منډه منډه د کارخانې لورې ته**
**چېرې چي مانوئل کار کوي**

**پر شونډو د مسکا خپره**
**باران دې پر ویښتو،**
**او هیڅه درته مهم نه وو**
**تللې چي له هغې سره وګورې**
**له هغې سره، له هغې سره، له هغې سره، له هغې سره.**
**یوازې پنځه دقیقې دي**

**ژوند په پنځو دقیقو کې تلپاتی دی**

**د کارخانې اشپلاق وهل کیږي**

**او کار ته ستنیدل پیل کیږي.**

**او ته په لوړو لوړ ګامونو**

**پر ټولو رڼا شیندې**

**هغه پنځه دقیقې**

**تا غوړوي.**

**ته مې په یاده یې، آماندا،**

**واټ لوند،**

**په منډه منډه د کارخانې لوري ته**

**چیرې چې مانوئل کار کوي.**

ویکتور په ځوانۍ کې، لومړی د حسابدارۍ په رشته کې زده کړې پیل کړې. خو ډیر زر لـه دې کار څخه لاس پـه سر شو او په مدرسې کې یې په زده کړو پیل وکړ. غوښتل یې کشیش شي. خو څو کاله وروسته له مذهبی او هامو هم بیل شو او دیني مدرسه یې پریښوده. دې کارونو د هغې هڅونکی او سرغړونکی او معترض انساني طبیعت نـشو ارضـا کـولی. نو تئاتر ته یې مخه کړه او پـه څنګ کې ترانـه ویل هم پیل کړل. پـه دې پېـر کـې، ویکتـور مخکـې لـه دې چې د خپل زوکړې ښار ته ستون شي او خپله لیوالتیا ته په تئاتر او ترانه ویلو کې ادامه ورکړي، څو کلونـه یـې هم پـه پوخ کـې تیر کړل. هغه په ژوره توګه د چیلي او لاتیني امریکا د فولکلور تر اغیزې لاندې و. او په تیره بیا د وایولتا پـارا، یوپـانکو او پابلو نرودا په شان هنرمندانو تر اغیزې لاندې راغلی و. له دې ټولو نه دا آماندا وه چې د خپل ګیتار او ترانو سره یې پر ویکتور ډیره ژوره اغیزه کړې وه او د هغې د راتلونکي ژوند لاره یې هواره کړې وه. دا هغه کار و چې د هغـې نـازک، حساس او سرغړونکی طبیعت یـې راضـی کـاوه: تئـاتر او ترانـه ویل. پـه دې کـار کـې یـې کـولای شـول د کـارګرانو او زیارکښانو ژوند، د هغو د ژوندانه کړاونـه او رنځونـه، د هغوی لـوی او کـوچنی هیلـې، د ننداري پر ستیج ویسي او پـه خپلو ترانو کې فریاد کړي.

**ما د ښاغلیو ژبه یاده کړه**

**او همدا ډول د ملکانو او اربابانو ژبه**

**هغوی اکثرا زه ووژلم**

**ځکه چې ما مې غږ د هغوی پر ضد اوچت کړ.**